لیکونکی : دوید سیون سن(David Swanson) .
منبع او دخپریدو نیټه : انفارمیشن کلیرنګ هوز «۲۰۱۶-۰۷-۰۹»
ژباړونکی: پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .

---

# که دافغانستان دخلکو ژوند اهمیت لري نو
# ددالاس دخلکو ژوند هم اهمیت لري

if Afghan lives Mattered , Dallas lives would Matter

هغه سړی چي په دي هفته کی دتکساس دایالت په دالاس کی د پولیسوافسر یي په قتل ورسول هغه دهمدی اوني په سره کی د یوګډ اود یوپراخ نظا می عملیا تو د سرته رسولو د پا ره د مسولو مقاما تو له خوا استخدام شوی وه یعنی هغه سړی کوم چی د پنځلس کالو په عمر کی زرګونه افغانان په افغانستان کی دخپل نورو سرتیرو ملګروسره په ګډه په قتل رسولی وه او دغه سړی لکه دامریکی دنورو سرتیرو په شان دامریکی دمتحده ایالاتو دخلکو دډالری ما لی د ورکول په پیسو او د امریکی د نظامی ماهرانو په واسطه سره د قتل او د وژلو مها رتونه زده کړی وه نو هغه په دی باور وه چی با ید هرتاوتریخوالی(خشونت) په خشونت سره ځواب ورکړ شی اوداځکه چی دغه ډول کړنه هرچیری یعنی دامریکی دمتحده ایالاتو په سیاست – تاریخ اودهغه په ژبه او وینا کی په روښانه بڼی سره ترسترګو کیږی چي دامریکی دمتحده ایالاتو د عمومی کړنی اود تګ لاری له اصلی اصول څخه دي . د امریکی د متحده ایالاتو د پولیسو د نورو دافسرانو د وینا له مخي دغه په امریکی کی د پولیسو د صا حبمنصبا نو وژنه یوله انصاف اوله اخلاق څخه وتلی او بی له یونامعقول چلن څخه بل شی نشی ګڼل کیدای !

په دالاس کی دپولیسو دغه قا تل خپل ځان دیو روبات (ماشینی سړی) پواسطه سره چي په هغه کی بمب ځای پرځای شوی وه دهغه په چا ودولو سره خپل ځان والوزول ګرچه پولیس کولای شو چه په د با ندی کی د هغه په انتظار کی اووسی مګر پولیس دغه پریکړی ونکړاودبلی خوا څخه هم بل څوک هغه ته ورزده کړی نه وه چی دتاوتریخوالی دغچ په اخیستلو سره نورو هغه ګرم نه ګڼی په ډیر لوړآواز اوچیغو سره درادیو تلویزیون دامواجو پراخه خپریدل دنسل کشی اویا دسیالی په منظور هغه پولیسی نظا میګری چلن دی کوم چی دغه ډول پیښی په راتلونکی کی به د زعم سره مل نه وی اودابه پخپله دډیرو انسا نی ضا یعا تو په عامل با ندی واوړی اودهغی په ترڅ کی ډیرو ډیرو به خپل عزیزان دلاسه ورکړی اودهغو له نا بودی څخه به تلپا تی رنځ وګا لی !

دافغانستان دخلکو قتل او وژنه دځنو نورو خلکو په وینا او دلیل سره هم نا عادلانه

،غیرمنصفانه ،غیر اخلاقی او په دی خا صو شرایطو کی په پریکړنی بنی سره په اصطلاح یوغیر انسانی اوبوږنوږنکی کړنه اوخشونت دی اود اند یښنی خبره خو دادی چي د امریکی د متحده ایالاتو دسپینی ما نی واکداران په دی تیره هفته کی ددغی له تا وتریخوالی څخه د ډکي جګړی ددوام دپاره دنوی پروګرامونودپلی کیدو پریکړه وکړل چی جګړه باید په افغانستان کی دوام ولری حال داچی دافغانستان خلک نه یواځی داچی دکال (۲۰۰۱) دسپتمر دیولسمی له پیښی څخه ملاتړ ونکړل بلکه هغوی اصلاً پخپل ژوند کی داسی یو بوږنونکی پیښه له سره نه وه اوریدلی اونه هغه سره بلد تیا درلود – دتاسف ځای دادی چي په دي تیرو پنځلسو کلونو کی د ترور ، خشونت اود انسا نا نو دوژنی کچه او ګراف ډیر لوړ شوی دی اولاپسی دلوړیدو په لوری په مخ کی ځي لکه دبی پیلوټو آلوتکو د بمباری له کبله ډیري انسا نا نو خپل ژوند دلاسه ورکوی اوددی بمونو دغورځولو له ګټی څخه دهغه د تا وان او د نقصان ګراف ډیر لوړ او لاپسی دلوړیدو په لوری روان دی چی نن دځنو سیاسیی کړیو له خوا دغه کړنه په ښکاره بنی سره رټل کیږی او پرهغه باندی نیوکی کیږی لکه هغسی چی د امریکی د متحده ایالاتو یومتقاعد جنرال ښاغلی **میخایل فلاین** (Michael Flynn) کوم چي هغه په سپینه ماڼی کی دامریکی دمتحده ایالاتو ددفاعی اطلاعاتی دیپارتمنت مشر وه نو هغه په کال (۲۰۰۴) داګست په میا شت کی په یوه خبری نا سته کی داسی څرګندونه وکړ: **مونږ امریکایان هر هومره سلاح اوجنګی مهمات چی نورو ته ورکوو یا هرڅومره بمونه چی مونږ دنړی په دی ګوټ اوهغه ګوټ کی غورځو په همغه کچی سره خشونت او تاوتریخوالی ته وسعت ورکو او ژمونږ عمل دی ته پا تي کیږی چي سړی پر آور با ند ی تیل وشیندی .**

دتورپوستو دژوند مهم اوله اهمیته ډک شعار په دی معنی نه دی چی ګویا دنورو سپین پوستو – یا دپولیسو اویا د نور دهر چا ژوند اهمیت نه لری بلکه دلته د تا سف ځای دادی چی ولی تورپوستی امریکا یی سړی په ښه کیږی اوپرهغه باندی پولیس ډزی کوی نه کوم بله ډله یا کوم بل سړی – نو له دی نه داسی پا یلی تر سترګو کیږی چی دغه ډزی د دښمن ډزی وه یا دهغه نظامیګر فتنه اچونکی او تفتین کونکی پولیس کوم چی دهغه په ذهن کی انسا ن وژنه او بیا په تیره د تورپوستکی وژنه حک شوی دی .

دسپتمبر دیولسمی کال (۲۰۰۱) دخونړی اودقتل عام اصلی اوریښتیانی عامل اومسول لا تر اوسه نه دی پیژندل شوی - قاتل ووژول شو لاکن روښانه نه شو لکه هغسی چی وایي هغه سعودی نه وه – هغه خارجی اوپردی نه وه – هغه مسلمان هم نه وه – پس نوهغه څوک وه - په هرصورت نن هغه قتلونه په سلو وارو سره د ځوابیه کړنی په بڼه سره یاد وی اوهغه داچی وژنه لوی بریا لیتوب او سوله لوی شکست اوماتی دی کوم چی لا تراوسه دهغه پا یلی نه تر سترګو کیږی .

مونږ نه باید دهغه ستونزی دحل په لاره کی هڅی اواند ترسره کړو کوم چی مونږ

پخپله هغه ستونزی رامینځته کړی وی - مونږ باید داسی په ډاګه کړو چي دټول خلکو ژوند ډیر مهم او اهمیت لري - اما که چیری په متحده ایالاتو کی د (4) فیصد شتمنو امریکایانو ژوند ته دنور (۹۶) فیصد خلکود ژوند څخه پورته وګڼو او د هغو ژوند ته اهمیت ورکړو نو په هغه صورت کی مونږ دما تی سره مخا مخ کیږو اوله حقیقت څخه سترګي پټوو، مونږ باید دډاراچونکو – سړی وژونکو شخړ زیږونکو خلکو روزنه په ټپه ودرو اوپه دی فکر کی باید اووسو چی هغوی نه باید دخپل ډاراچونکی – وژونکی مهارتونو مشق اوتمرین دامریکی څخه دبا ندی پر (۹۶) فیصد خلکو باندی ترسره کړی اویا د (۹۶) فیصد خلکو ژوند ته اهمیت ورنکړی .

زمونږ تشویش غم اوخپګا ن په دی کی دی چی ولی دامریکی دمتحده ایالاتو بی پیلوته الوتیکی په نړی کی پربی ګناه انسانانو باندي بمونه غورځوی اودهغو ژوند ور ځنی اخلی اودهغوی د کورنی کرکه اونفرت زمونږ امریکایا نوته را اړول کیږ ی او یا ولی د سپینی ما نی جګړه ما ران مینځنی ختیځ اودنړی نوروبرخو ته جنګی مهمات اوسلاح لیږی اوپه دی بڼی سره دجګړی اورته پکی وهی او د نړی حالات خرپیړ کوی اویا داچی ولی درازیږول شوی پراسلامی دولت با ند ی بواځی بر غل وړی اوپه دی توګه سره په اوربا ندی تیل اچوی اود ستونزی دحل نوری لاری نه لټوی چی شخړه له مینځه لاړ شي هغه پیسی او بودجه چی دانتخاباتو په کمپاین کی درای دترلاسه کولو اودسیالی دګټلو په منظور په مصرف رسول کیږی اویاد هغه بی لجام تبلیغاتو دپاره پیسی چی د جمعی ارتباط یاد رسنیو پواسطه سره په مصرف رسول کیږی اویا داچی دنا وړوفلمونو په تولید کی ډیری پیسی لګول کیږی اویا د هغو فلمونو د ننداری د پا ره چي پر خلکو با ندی ټکټونه پلورل کیږی دهغو څخه څه لاسته راوړنه تر لاسه کیږی او یا داچی دخلکو د ستونزی کومه برخه له مینځه وړی اود خلکو ستونزی حلوی اویا داچي د سلاح د صنعت سا تنه اوهغه ته وده ورکول ایا انسا نا ن په شمول دهغو چی په پورتنی موضو ګا نو باندی فکر کوی یا په عنعنوی بڼی سره موضوع ګا نو ته اهمیت ورکوی ایا دهغوی ژوند خوندی به و سا تل شي ؟

اما که مونږ یوڅه فکر وکړو کولای شو چی دغه پورتنی بیخایه ما لی لګښتونه چی دخلکو ژوند ته څه ګټه نه رسوی دډالاس دخلکو دژوند دښیګڼی دپاره ولګو نو په یقین سره که فکر وکړو اویا که فکرونکړو دخلکو ژوندسمیږی اودی ته وخت نه پاتي کیږی چی په افغانستان کی دخلکو ژوند بی اهمیت وګڼو اویا دهغو د تباهی سبب شو .

په درنا وی ۲۰۱۶-۷-۱۰

---